
د پوهنې وزارت

د تعليمي نصاب د پراختيا او د

درسي كتابونو د تاليف رياست

# د ژوند مهارتونه

## دوهم ټولګی



د چاپ کال: ۱۳۸۸هـ. ش.

د پوهنې وزارت

د تعلیمي نصاب د پراختیا او د
درسي کتابونو د تالیف ریاست

# د ژوند مهارتونه

## دوهم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۸۸هـ. ش.

# د کتاب د تالیف، څېړنې او تدقیق کمېټې

## لیکوال:

ترینا "ستار محب زاده" د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست علمي غړې.

داکتر صدیق الله ویرا د پوهنې د وزارت سلاکار

## تایید او مطالعه:

### ملي شورا:

**د ولسي او مشرانو جرګو د دیني، پوهنې او لوړو زده کړو د کمیسیونونو غړي.**

## د څېړنې او تدقیق کمېټې:

### د پوهنې وزارت:

حمیدالله "ویدا" د پوهنې وزارت د علمي شورا غړی.

محمد عزیز "بختیاري" د پوهنې وزارت سلاکار.

غلام سرور "بغلاني" د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د دري د دیپارتمنت غړی.

## د کابل ښار د پوهنې ریاست:

۱- رحمت الله د میرویس هوتکي د لیسې ښوونکی.

۲- فریده د قاري عبدالله د لیسې ښوونکې.

## د محتویاتو د دیني، فرهنګي او سیاسي برخو د څېړنې او کره کتنې کمیټې:

۱. حیات الله ناصر د پوهنې وزات د علمي شورای غړی.

۲. دوکتور محمد یوسف نیازي د پوهنې وزات د علمي شورای غړی او سلاکار.

۳. محمد آصف ننګ د پوهنې وزارت د خپرونو او اطلاعاتو رئیس.

## د څېړنې او تدقیق د څارنې کمېټه:

- دکتور عبدالغفور غزنوي د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ساینس مرکز او د خپرونو مرستیال. دکمېټې رئیس
- محمد صدیق پتمن د پوهنې وزارت تدریسي مرستیال. غړی.
- د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستانی د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف رئیس. غړی.

بسم الله الرحمن الرحيم

## پېغام

د لوی خدای (ج) شکر ادا کوو چې زموږ د مجاهد ملت دکلکې ارادې، بېدريغه قربانيو، د ملګرو ملتونو او د نړۍ د بشردوستو هېوادونو د نيکو هلوځلو په پايله کې په هېواد کې سراسري سوله او مشروع سياسي نظام ټينګ شو او له جګړې څخه را پيدا شوی څوکلن کړاو يې پای ته ورساوه. د افغانستان اسلامي جمهوريت او په سر کې يې جلالتمآب حامدکرزی د واکمن وګړنيز نظام له پيل څخه ملي سترو مـــوخو تـه د رسېدو په هيلـه د هېـواد د بيارغـاونې او پراختيا په ټولـو برخـوکې د نـوو پروګرامونو تګلاره پيل کړې ده. د ښوونې او روزنې په برخه کې او د معارف د نوي کيدو او غوړيدو په لاره کې هڅې، د ملي يووالي، متمدنو، رښتينو او د پياوړو مسلمانانو په توګه د نوی ځوان نسل د روزنې په برخه کې د دغه جلالتمآب زيات ملاتړ او زړه سواندې لارښوونې چې تر تطبيق لاندې دي د ډېرې درناوي وړ دي.

دپوهنې وزارت دهغو لارښوونو او نوښتونو له جملې څخه چې د افغانستان دپوهنې د بيارغاونې په لاره کې يې ترلاس لاندې لـري، د تعليمي نـصاب د پرمختيا او درسي کتـابونو د تـاليف رياست تـه دنده ورکړې ده چې له يوې خوا د ښوونځيو د لوست دکتابونو دکمښت او نشتوالي ستونزه لـرې کـړي او لـه بل پلوه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د علمي او فرهنګي پاليسۍ اوموخو په رڼا کې د داسې واحد تعليمي نصاب په ترتيبولو بوخت شي چې د هېواد اوسنيو او راتلونکو اړتياوو ته ځواب ووايي.

زموږ نوی تعليمي نصاب چې د افغانې ټولنې له غوښتنو او نړيوالو معيارونو سره عيار شوی، موخه يې د هېواد د بچيانو اسلامي اوعلمي روزنـه اوزده کـړه ده چې پـه نتيجـه کې يې دپـوهنې د زده کوونکو، ماشومانو، تنکيوځوانانو او ځوانانو په ذهن کې سالم تفکر پياوړی او هغوی د نوې پوهې لـه ارزښتونو سره آشنا کوي. زموږ د هېواد ځوانان بايد متدين مسلمانان، هيوادپـال، بشرپال او د پـوهې او کمـال پـر ګاڼه سمبال انسانان وروزل شي ترڅو د علومو د پرمختيا او معاصر تمدن له پرمختګ سره اشنايي ترلاسه کړي او په ټينګ هوډ سره له هغو نوو او مثبتو بدلونونو څخه چې رامنځته شوي دي ګټه واخلي. دنوی افغانستان او د يوې سوکاله ټولنې د جوړونې په موخه د ساينس او تکنالوژۍ لـه بـدلونونو سـربېره بايـد د انساني علومو له بنسټونو، د بشري حقونو د ساتنې، سولې، هېوادپالنې، ملـي يـوالي، د استوګنې د سـالم چاپيريال د ساتنې اوسوله ييز ګډ ژوند څخه خبر وي. د جهل لـه تـورتم او د مخـدره توکـو لـه توليـد او قاچاق سره مبارزه د خپلوزده کړوپه سر کې په پام کې ونيسي.

مونږ له رښتينو، زړه سواندو اوتجربه لرونکو ښوونکو څخه چې د نوي تعليمي نـصاب پـه تطبيـق کـې د هېواد د بچيانو د زده کړې او روزنې سترمسؤليت پر غاړه لري او دغه راز د هېـواد د پـوهنې د برخـې لـه نورو علمي، فرهنګي شخصيتونو او پوهانو څخه هيله لرو چې د خپلـو رغنـده نظرونـو او وړانـديزونو پـه وړاندې کولو سره زموږ له ليکوالو سره د درسي کتابونو په ليکلو او پياوړي کولو کې مرستې وکړي. پـه همدې ډول له تمويلوونکو هېوادونـو او درنـو سـازمانونو (د امريکـا د متحـده ايـالتونو د نړيـوالې پراختيـا اداره، دانيدا، يونيسف، نړيوال بانک اويونيسکو)څخه چې دکتابونو په تاليف او چـاپولوکې يې د پـوهنې له وزارت سره مادي اوتخنيکي مرسته کړې ده مننه کوو. له ټولو ګرانو زده کوونکـو، درنـو ښـوونکو او محترمو ميندو پلرونو څخه هيله کوو چې د درسي کتابونو په ښه ساتنه کې خپله مرسته ونه سپموي.

**فاروق وردک**

دافغانستان داسلامي جمهوريت دپوهنې وزير

# د مندرجاتو فهرست	مخ


لومړی فصل زما کورنۍ (۱۲ درسي ساعتونه) ........................................... ۱-۲
دویم لوست په کور کې د ماشومانو رول ........................................... ۳-۴
دریم لوست دکورنۍ مشران ........................................... ۵-۶
څلورم لوست په کورنۍ کې درناوی ........................................... ۷-۸
پنځم لوست دکور کارونه ........................................... ۹-۱۰
شپږم لوست له کور نه بهر دندې ........................................... ۱۱-۱۲
اووم لوست کورنۍ اړیکې ........................................... ۱۳-۱۴
اتم لوست د فصل لنډیز ........................................... ۱۵-۱۶

دویم فصل: زما ژوند ( ۱۱ درسي ساعتونه )
نهم لوست زمونږ یادونه ........................................... ۱۷-۱۸
لسم لوست زمونږ ارمانونه ........................................... ۱۹-۲۰
یوولسم لوست زمونږ تکلونه ........................................... ۲۱-۲۲
دولسم لوست د کوچنیانو حقونه ........................................... ۲۳-۲۴
دیارلسم لوست څه ډول زده کوو ........................................... ۲۵-۲۶
څوارلسم لوست ولې زده کړه کوو ........................................... ۲۷-۲۸
پنځلسم لوست دخپل ځان ځارنه ........................................... ۲۹-۳۰
شپاړسم لوست خپل او د نورو مال ........................................... ۳۱-۳۲
اوولسم لوست د فصل لنډیز ........................................... ۳۳-۳۴

دریم فصل ټولنیز ژوند ( اوه درسي ساعتونه )
اتلسم لوست سترې مشي ........................................... ۳۵-۳۶
نولسم لوست نږدې دوست ........................................... ۳۷-۳۸
شلم د مهمو ورځو لمانځل ........................................... ۳۹-۴۰
یو ویشتم لوست مرسته کول او مرسته غوښتل ........................................... ۴۱-۴۲
دوه ویشتم لوست ګډ کار ........................................... ۴۳-۴۴
در ویشتم لوست د فصل لنډیز ........................................... ۴۵-۴۶

**څلورم فصل: آرامي او روغتیا ( لس درسي ساعتونه )**


څلور ویشتم لوست خواشیني ........................................................۴۷-۴۸

پنځه ویشتم لوست ډار........................................................ ۴۹-۵۰

شپږ ویشتم لوست دغوسې چاره ........................................................۵۱-۵۲

اوه ویشتم لوست زړورتوب ........................................................۵۳-۵۴

اته ویشتم لوست خوښي ........................................................۵۵-۵۶

نهه ویشتم لوست بې زړه توب ........................................................۵۷-۵۸

دېرشم لوست زما ښېګنې ........................................................۵۹-۶۰

یو دېرشم لوست فصل لنډیز........................................................۶۱-۶۲


**پنځم فصل : په سوله کې ژوند (دولس درسي ساعتونه )**


دوه دېرشم لوست په ځان مرباني ........................................................۶۳-۶۴

درې دېرشم لوست ښه نیت پیرزوینه........................................................۶۵-۶۶

څلور دېرشم لوست دعوا ........................................................۶۷-۶۸

پنځه دېرشم لوست جګړه ........................................................۶۹-۷۰

شپږ دېرشم لوست غوږ نیول........................................................۷۱-۷۲

اوه دېرشم لوست د تېر وتنو منل ......................................................... ۷۳-۷۴

اته دیرشم لوست دبښنې غوښتل ........................................................۷۵ ۷۶

نهه دېرشم لوست له خپګان نه ورروسته پخلاینه ........................................................۷۷-۷۸

څلوېښتم لوست د فصل لنډیز ........................................................ ...۸۹-۸۰

# سرلیک

**محترم ښوونکی صاحب!**

**د هېواد د بچيانو دښکاره اوڅرګندې اړتيا او د ماشومانو تـرمنځ د تـاوتريخوالی او بـې مسؤليتې د فرهنګ د لا زياتې نابودی او دمسلمانو، آزادو، پوهو، مهربانه، سوله غوښتونکو او نوښتګره انسانانو په توګه دهغوی دچمتو کولو په خاطر کولای شو دکتاب د هر څپرکـې د موضوعګانو په لوست ورکولو سره دپوهې دوراندې کولو، دمهارت دورزده کولـو او پـه ماشومانو کې دمثبت ذهنيت له لاروڅخه په افغانستان کې ديوې سالمې ټولنې دبنسټ اېښودو له پاره هيلې ولرو.**

**د دې له پاره چې زده کړه په ډاډمنه توګه اغيزمنه او په زړه پورې شي دې ته اړتيا ده چې د زده کړې يو رينتنی چاپيريال برابر کړو.**

**د زده کړې چاپيريال:**

**١-هره ورځ خپل درس په سلام ويلو او داحوال په پوښتنه پيل کړئ، له هغو زده کوونکـو څخه چې په ځانګړو ستونزو اخته دي ناروغه وو اويايې بله کومه ستونزه درلوده پـه جـلا توګه پوښتنه وکړئ.**

**٢- له زده‌کوونکو سره په خندا اوخوشحالی خبرې وکړئ هڅه وکـړئ، چـې دټـولګي چاپيريال خوشحاله وي او دستړيا دمخنوي په خاطر له مناسبو کيسو اولطيفو څخـه ګټـه واخلئ.**

**٣- له زده‌کوونکو خبروته په ځير او درناوی غوږ ونيسئ او هڅه وکړئ دپوښتنې دکولو او دنظر دڅرګندولو روحيه په کې پياوړې کړئ.**

**۴-د زده‌کوونکو هر کوچنی پرمختګ وهڅوئ او دهغوی دزيار ايستنې ستاينه وکړئ (تيرله نتيجو څخه)**

**۵-دملنډو اوسپکاوی په الفاظو سره د زده‌کوونکو له مخاطب کيدو نه په کلکه ډډه وکړئ.**

**۶-دټولګي ديوالونه په هغو انځورونو سره چې زده کوونکي يې برابروي ښکلي کړئ.**

۷- معیوبو، معلولو او هغو زده کوونکو ته چې چاسره نه کینې ( ګوشه ګیــر) وي زیاتــه پاملرنه دې وشي دهغوی دفعالیتونو په اجرا کولو کې دې ورسره مرسته وشي او دهڅونې وړ دې وګرځې.

۸- راتلونکي لوست او د لوست موخه "د زده‌کوونکو له پاره فعالیتونه او دښوونکي له پــاره لارښوونې" یوه شپه مخکې وګورئ، له هغې سره سم هغه درسي مواد چې باید ټولګي ته یې له ځان سره یوسې تیار کړئ ، په ټولګي کې دننه یا له هغه نه بهر دفعــالیتونو پــلان طرحــه اودسیمې اړوندې کیسې یا بیلګې ددرس په توګه پیداکړئ.

## د لوست ورکولوچلند:

۹- له احوال پوښتنې وروسته دتېرې ورځې لوست یو واربیا ولولئ (له زده کوونکو نه پوښتنه وکړئ یا له هغوی نه وغواړئ چې دتیر درس لنډیز یوځل بیا ووایي)

۱۰- په تیر لوست باندې له نظر کولو وروسته زده کوونکو ته دنوي درس موخه په ســاده تورو کې بیان کړئ، (دبیلګې په توګه ګرانو زده کوونکو: ددې لوست په پای کې زده کړې او دعمل .... داجرا کولو وس به ولرئ)

۱۱- نوی لوست دتفکر دپارولو په طرحه کولو سره (چې د سرلیکونو لاندې ځای پرځای شوی دی) پیل کړئ.

۱۲- دښوونکي له پاره له لارښوونو او په هر درس کې دځای کړای شوو انځورونو نه پــه ګټې اخستو سره نوی سرلیک بیان کړئ او یایې تمثیل کړئ.

۱۳- زده کوونکو ته دزده کړې دپلي کولو له پاره، له سیمه یزو کیسو او مثالونو څخه کار واخلئ.

۱۴- د زده‌کوونکو عملي وندہ اخیستنه، دډرامو اجراء کول ښایي په لومړیو وختونـــوکې سخت وبریښي خو دوقت په تیریدو سره اسانیږي تاسو او زده کوونکي به له هغـــو ســـره روږدي شئ.

فعالیتونه او وندہ اخیستل:

۱۵- دښوونځي په لومړۍ یا دویمه ورځ، خپل ټولګی له څلورو نه تر شپږوپورې په کوچنیو ډلو وویشئ، په هره ډله نوم یا لمبر ولیکئ (د بیلګې په توګه د لمر، غره یا سپوږمۍ، ســـیند، ستوري ، ځمکې... ډلې، د دغې ډلبندۍ نه به د زده‌کوونکو په فعالیتونو کې کار واخلئ.

۱۶- د زده کوونکو دفعالیتونو په بهیر کې بې‌زړو زده کوونکو ته زیات وخت ورکړئ چې په ټولګیزو فعالیتونو کې له وندہې اخیستو سره زیات عادت شي.

۱۷- د هرلوست په پای کې له زده کوونکو نه وغواړئ چې زده کړای شوې موضوعګانې د خپلو کورنیو له غړو سره په منځ کې واچوي او د هغه څه لندیز چې له خپلو کورنیو څخه زده کوي په ورو‌پسې ساعت کې ټولګي ته درپوټ په ترڅ کې ورکړي.

۱۸- له هرې ډلې نه دې یو زده کوونکی دټولګي مخې ته راشي په درس پورې اړوند انځور دې په تخته وکاږي.

۱۹- دښوونکی له پاره له لارښوونې سره سم د زده‌کوونکو له خوا زده شوې پوهه او تـــر لاسه شوي مهارتونه دهر لوست په پای کې وڅیړئ، په دغې ارزونه کې باید دسوالونو پوښتنه او د زده‌کوونکو د عملي وړتیا ازموینه شامل وي.

۲۰- د زده‌کوونکو د همیشنۍ ارزیابۍ له پاره دارزیابۍ یو کتابچه تیاره کړئ دهغې یوه پاڼه هر زده کوونکي ته بیله کړئ په دغو پاڼو کې دزده کړی په فعالیتونو کې د زده‌کـــوونکي د وندہې اخیستو او د زده‌کوونکي په علاقه مندۍ او سلوک کې مثبت بدلونونه ولیکئ.

۲۱- د هرې اونۍ په پای کې دارزيابۍ پاڼې يو وار بيا ولولئ چې د زده‌کوونکو په پـــرمختګ پـــه دقيقه توګه پوه شئ ، دهغو کسانو په باب چې زياتې مرستې ته اړتيا لـــري ځـــانګړي تدبيرونـــه ونيسئ.

۲۲-په دې مضمون کې دپوهې زده کړه، دعملي مهارتونو زده کړه او د زده‌کوونکو په کړو وړو کې بدلون دارزيابۍ اصلي موخه (ملاک) ده. نمره اودمطالبو حفظول دارزيابۍ معيارونه نه دي).

۲۳- د هرې اونۍ په پای کې د ارزوني په پاڼو نوې کتنه وکړئ چـــې پـــه ځيـــر ســـره د زده‌کوونکو په پرمختګ پوه شئ، د هغه چا په اړه چې زياتې مرستې ته اړتيا لري ځـــانګړې تدبيرونه په پام کې ونيسئ.

۲۴– په دې مضمون کې دپوهې زده کړه، دعملي مهارتونو يـــادول يـــا زده کـــول او د زده کوونکو په کړو وړکې مثبت بدلون دارزونې اصلي موخه ده (دمطالبو حفظول دارزوني معيارونه دي).

بسم الله الرحمن الرحیم

لومړی لوست

لومړۍ فصل

# زما کورنۍ

دلوست موخه: چې زده کوونکي د خوشحاله او غمجني کورنۍ ترمنځ توپیر وپېژني.

- په کورنۍ کې له چا سره ژوند کوئ؟
- څه وخت ستاسو په کور کې خوشحالي وي؟
- څه وخت ستاسو په کور کې خپګان وي؟





زموږ په کورنۍ کې ټول یو له بل سره ښه چلند کوي.





زموږ په کورنۍ کې هر وخت شخړې او خپګان وي.

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په لوست کې انځورونو ته وګوري او په دوه کسیزو ډلو کې دې یو بل ته شرحه کړي.
- یو څو زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او ودې وایې چې یوه خوشحاله او مینه ناکه کورنۍ څنګه رامنځته کیدای شي.
- یو څو زده کوونکي دې وو ایي چې کوم شیان په یوه کورنۍ کې د غوسې او خوابدۍ لامل کېږي؟

## د ارزونې پوښتنې:

- د کورنۍ د غړو ترمنځ اړیکې څه ډول وي؟
- د کورنۍ د غړو ترمنځ درناوی څه ډول پیدا کېږي؟
- څنګه د کورنۍ غړي یو دبل په خوشحالۍ او غم کې شریک وي؟

## کورنۍ دنده:

د یوې خوشحاله کورنۍ او د هغې د مینې او خوښۍ په باره کې د خپلې کورنۍ له غړو سره خبرې وکړئ.

دویم لوست

# په کور کې د ماشومانو رول

**د لوست موخه:** چې زده کوونکي د نجلۍ او هلک په رول او د کور د کارونو په ویش کې له عدالت سره آشنا شئ.

- ستاسو په کور کې کوم کارونه هلکان کوي او ولې؟
- کوم کارونه نجونې ترسره کوي او ولې؟
- که چېرې نجونې او هلکان هر کار په ګډه وکړي څه به وشي؟







زموږ په کورنۍ کې هلکان او نجونې د کور په کارونو کې یو له بل سره مرسته کوي، کله چې زما مور د خوراکي شیانو په پخولو بوخته وي، زه مې وړه خور ساتم.

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې د لوست انځورونه وګوري او خبرې دې پرې وکړي.
- څو ډلې دې د ټولګي په مخ کې د کور په کارونو کې د عدالت او یا بې انصافی تمثیلونه وکړي.
- زده‌کوونکي دې د کور د کارونو په ترسره کولو کې د نابرابریو په باره کې یو د بل سره خبرې وکړي او ټولګیوالو ته دې بیان کړي.

## د ارزونې پوښتنې:

- په کور کې کوم کارونه ترسره کوئ؟
- د کور په کارونو کې مرسته کول کومې ښېګڼې لري؟
- څنګه د کور په کارونو کې بې عدالتي کمولای شئ؟

## کورنۍ دنده:

زده‌کوونکي دې په خپل کور کې د نجونو او هلکانو د کارونو د ویش په باب او دا چې دا ویش عادلانه دی که نه، د کورنۍ له غړو سره دې خبرې وکړي.

دریم لوست

# د کورنۍ مشران

**دلوست موخه**چې زده کوونکي دمشرانو له رول سره آشناشي او هغه له یو بل سره انډول کړای شئ.

- ستا پلار څه کار کوي؟
- ستا مور څه دنده لري؟
- ستا نېکه په کور کې او له کور څخه د باندې کوم کارونه ترسره کوي؟
- ستا نیا کوم کارونه کوي؟





زموږ د کورنۍ غړي یوبل ته ګران دي او د یوبل درناوی کوي.







زموږ په کورنۍ کې کوچنیان او لویان د کور په کارونو کې مرسته کوي.

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې د لوست انځورونه وګوري او بیا دې د خپلو نیکه ګانو او نیا ګانو دندې او کارونه یو بل ته بیان کړي.
- په دوه کسیزو ډلو کې یوه داسې خاطره او تېره یادونه وواياست چې ستاسو د نیکه او نیا په کار پورې اړه ولري.
- یو څو ډلې دې خپلې کسېې نورو ټولګیوالوته ووایي.


## د ارزونې پوښتنې:

- مورِ چاته نیکه اونیا وایو؟
- په کور کې زمورِ د پلار او مور دنده څه ده؟
- د کور کوم کارونه مو مور او کوم مو پلار کوي؟

## کورنۍ دنده:

د خپلې نیا او نیکه په باره کې یوه جمله ولیکئ او د کورنۍ له غړو سره پـــه دې باب خبرې وکړئ.

ځلورم لوست



# په کورنۍ کې درناوی

**د لوست موخه:** چې زده کوونکي د مشرانو اوکشرانو تر منځ متقابل درناوی وپېژني او په عمل کې يې ونبودلی شي.

- **ستاسو په کورنۍ کې څوک له تاسوڅخه مشران دي؟**
- **ستاسو په کورنۍ کې څوک له تاسو څخه واړه دي؟**
- **د خپلې کوچنۍ خور او ورور سره څه ډول مرسته کوئ؟**
- **له مشرې خور او ورور سره څه ډول چلند کوئ؟**









**زموږ په کورنۍ کې کنځلې کول او وهل نشته، مشران او کشران يو بل ته درناوی کوي. هيڅ څوک يوبل ته بدې خبرې نه کوي. مشران او کشران د يو بل خبروته په درناوې غوږ نيسي.**

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې د لوست انځورونه وګوري او ترې لاندې جملې دې ولولي.
- څو زده کوونکي دې د ټولګي په مخ کې د لویانو او کوچنیانو ترمنځ توپیرونه او ورته والی بیان کړي.
- څو دوه کسیزو ډلې دې له ماشومانو سره د مشرانو له درناوي نه ډکه رویه تمثیل کړي.
- څو ډلې دې له مشرانو سره د کوچنیانو له درناوی څخه ډک چلند تمثیل کړي.


## د ارزونې پوښتنې:

- مور، څه ډول یو د بل درناوی وکړو؟ مثالونه ورکړئ.
- لویان څه ډول دکوچنیانو درناوی وکړي؟
- که په یوه کورنۍ کې درناوی نه وي څه کېږي؟

## کورنۍ دنده:

د خپل مور او پلار سره د کورنۍ د درناوي په باره کې خبرې وکړئ او د هغو نظرونـــه واخلئ او خپلو ټولګیوالو ته یې بیان کړئ.

پنځم لوست



# د کور کارونه

| |
|---|
| **د لوست موخه:** چې زده کوونکي د کور کارونه وپېژني او يو له بل څخه يې بېل کړای شي. |

- **ستاسو په کور کې کوم کارونه ترسره کېږي؟**
- **کوم کارونه تاسو ترسره کوئ؟**
- **کوم کارونه د کورنۍ نور غړي ترسره کوي؟**
- **ولې د کور په کارونو کې برخه واخلو؟**









**د جامو، ډوډۍ او چای د لوښو پاکول, د کور جارو کول، سودا راوړل، ډوډۍ پخول، اوبه راوړل او د ګلانو خړوبول د کور د کارونو له جملې څخه دي.**

**زه خپل کتاب او کتابچې د کور په فرش نه پرېږدم. خپل کالي او بوټونه په لاره کې نه غورزوم. د کور په کارونو کې مرسته کوم، خپل درسونه او د کوچنيانو مجله لولم. د کورنۍ نور غړي د کور په نورو کارونو کې برخه اخلي.**

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزه ډلو کې د لوست انځورونه وګوري او د خپلو کورونو د کارونو په هکله دې خبرې وکړي.
- یوه ډله دې د ټولګي په مخ کې د یوه تمبل ماشوم رول ولوبوي چې خپل کالي او کتابونه په لاره او فرش غورزوي خپله بستره او ځای نه سموي.
- نور زده‌کوونکي دې د نقش په منفي برخو خبرې وکړي او ودې وایې که د خپل کور په کارونو کې برخه وانخلي څه کېږي؟

## د ارزونې پوښتنې:

- څه وخت یوکور ګډوډ او بې نظمه کېږي؟
- ولې د کورنۍ غړي خپل کالي او لوښي په خپل ځای کېږدي؟
- څه وکړو چې د کور کارونو وروسته پاتې نشي؟

## کورنۍ دنده:

د کور د کارونو په هکله د خپلې کورنۍ رسره خبرې وکـــړئ، د هغـــوی نظرونـــه واخلئ او ټولکیوالو ته بیان کړئ.

شپږم لوست




# له کورنه بهر دندې

**دلوست موخه:** زده کوونکي دې له ځینې دندو سره بلد شي اوخپله په زړه پورې دنده دې تمثیل کړای شي.

- **څو ډوله دندې پیژنئ؟**
- **ستاسو د پلار دنده څه ده؟**
- **ستاسې مور له کور څخه بهر دنده لري؟**









**له کور څخه بهر دندې ټولې د خدای(ج)د مخلوق د خدمت لپاره دي. د دې لپاره چې ښوونکی، ډاکټر یا پولیس شو نو باید په ښوونځي کې سبق ووایو. د دې لپاره چې ترکاڼ شو باید د ترکاڼ په دوکان کې شاګردي وکړو او یا د ترکاڼۍ سبق ووایو. د دې لهپاره چې بزګر شو نو باید د بزګری په کارونو کې برخه واخلو یا د بزګری لوست ووایو.**

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسيزو ډلو کې د لوست انځورونه په غور سره وګوري او د دندو نومونه دې واخلي
- هر زده‌کوونکی دې د خپلې کورنۍ د غړو د دندو په اړوند خبرې وکړي.
- څو ډلې دې خپلې کيسې په لوړ اواز د ټولګي په وړاندې ولولي يا تمثيل کړي.

## د ارزونې پوښتنې:

- که غواړئ چې ښوونکي شئ بايد څه وکړئ؟
- ولې ښوونځي ته ځو؟
- ولې هغه څوک ښوونکی او ډاکټر نه شي کيدلی چې ښوونځی يې نه وي لوستی؟

## کورنۍ دنده:

زده‌کوونکي دې د کورنۍ له غړو سره په بېلابېلو دندو خبرې وکړي، خپله هيله دې د خپلې راتلونکې دندې په باب بيان کړي.

اووم لوست



# کورنۍ اړیکې

د لوست موخه: چې زده کوونکي د خوښۍ او وير په توپيرونو پوه شي په دغه ډول حالتونو کې خپله دنده درک او په عملی توګه تمثيل کړای شي؟

- د خوښۍ څو ډوله محفلونه پېژنئ؟
- څه وخت کورنۍ د خوښي محفل جوړوي؟
- د خوښۍ په محفل کې موږ باید څه وکړو؟
- په غمجنو محفلو کې (لکه: جنازه، فاتحه اوداسې نورو) باید څه وکړو؟





موږ د خوښۍ په غونډو (محفلونو) کې جنګ نه کوو او شیان نه ماتوو. په ویرجنو مجلسونو کې شور او غالمغال نه کوو او له ځانه کشران نه آزاروو او د هغوی څارنه او ساتنه کوو. د اختر په ورځو کې د خپلو مشرانو لاسونه ښکلوو او هغوی ته د اختر مبارکي وایو. زموږ په ګران هېواد کې د ځینو ورځو د لمانځنې لهپاره ښوونځي رخصت وي.

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده کوونکي دې په دوه کسيزو ډلو کې د لوست انځورونه وګوري او ترې لاندې متن دې ولولي.
- څو ډلې دې د ټولګي په وړاندې د خوښۍ په غونډو کې د لويانو او ماشومانو ونډه تمثيل کړي.
- څو ډلې دې د غم په محفلونو کې د لويانو او ماشومانو ونډې تمثيل کړي.
- نور زده‌کوونکي دې په دې باب خپلې شخصي تجربې نورو ته څرګندې کړي.

## د ارزونې پوښتنې:

- ولې د خوښې او وير په غونډو کې جنګ ونه کړو، ښيښې او لوښي مات نه کړو؟
- څه ډول له هغو ټولګيوالو سره خواخوږي ښکاره کړو چې د کورنۍ يو غړی يې ناروغه دی يا مړ شوی؟
- په کور کې په زوره چيغې وهل ښه دي او که کراره خبرې کول، ولې؟

## کورنۍ دنده:

د دې لوست کيسه د کورنۍ غړو ته وواياست او په دې برخه کې د دوی نظر وغواړئ.

اتم لوست



# د فصل لنډیز

**دلوست موخه:** چې زده کوونکي د تیرو لوستونو د پام وړ ټکو ته ځیر شي او د لوستونو عملي برخې به تکرار کړي.

- **ولې په یوې کورنۍ کې خواشیني پیدا کېږي؟**
- **که د کور ټول کارونه یوکس وکړي څه کېږي؟**
- **لویان څه ډول کوچنیانو ته درناوی کوي؟**













**موږ چې د خوښۍ او د کور د کارونو په هکله څه زده‌کړي هغه په خپل ورځني ژوند کې پلي کوو. د خوښــۍ او ویــر پــه غونډوکې جګړې نه کوو او څه شئ نه ماتوو. د کورنۍ لویو او وړو ته درناوئ کوو او د نورو ماشومانو سره په دوستۍ لوبې کوو.**

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې د دې او تیرو لوستونو انځورونو ته وګوري او په دوه کسیزو ډلو کې دې ووایي چې د کوم لوست کوم ټکي یې ډیر خوښ شوي او په ورځني ژوند کې یې پلي کړي دي.
- په دوه کسیزو ډلو کې دې د هغه هلک او نجلی تمثیل وکړي چې د نورو ماشومانو خبرو ته په غور غوږ نیسي او په لوبو کې له نورو ماشومانو سره جګړه نه کوي.
- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې د کوچنیانو له خوا مشرانو ته درناوی او د مشرانو له خوا کوچنیانو ته درناوی تمثیل کړي.

## د ارزونې پوښتنې:

- څنګه مشران او کشران یو بل ته درناوی وکړي؟
- د کور په کارونو کې نجونې او هلکان څنګه له یو بل سره مرسته وکړي؟
- ستاسې له کور څخه بهر کومې دندې ډیرې خوښېږي او ولې؟

## کورنۍ دنده:

د خپلو نویو زده کړو د عملي کولو په باب له خپلې کورنۍ سره خبرې وکړئ.


نهم لوست

# دويم فصل

## زموږ يادونه (خاطرې)

**د لوست موخه:** چې زده کوونکي د خاطرو په ګټورتوب پوه شي او د نورو په مخ کې يې څرګند کړای شي.

- ستاسو تر ټولو ښه خاطره کومه ده؟
- خپله يوه بده خاطره خپلو ټولګيوالوته ووایاست؟
- د بدو خاطرو يادول څه ګټه لري؟
- د خوابدئ په وخت کې د ښو خاطرو را په يادول څه ګټه لري؟







د تېرو خاطرو په باب خبرې کول ګټه لري. کله چې موږ خپلې بدې خاطرې خپل نژدې دوست ته ووايو، زموږ فکر ارامېږي. کله چې خوا بدي شو بايد د تېرو خوږو خاطرو په باب خبرې وکړو، ترڅو مو خواشيني ليرې شي.

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې د لوست انځورونه وګوري او ترې لاندې جملې دې ولولې.
- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې خپلې بدې خاطرې یو بل ته ووایي.
- ځو زده‌کوونکي دې د خپلو خوږو خاطرو کیسې د ټولګیوالو په وړاندې ووایي.
- ځو زده‌کوونکي دې د خپلو بدو خاطرو په باب ټولګیوالو ته کیسې وکړي.

## د ارزونې پوښتنې:

- تاسو خپلې تېرې خاطرې چاته وایئ؟
- ولې خپل ترخه یادونه خپل نژدې دوست ته بیان کړو؟
- که څوک خپلې خاطرې مور ته وایي، مور باید څه وکړو؟

## کورنۍ دنده:

له تېرو پېښو څخه خوږې او ترخې خاطرې، د خپلې کورنۍ له غړو سره یادې کړئ.

لسم لوست



# زموږ ارمانونه (آرزوګانې)

**د لوست موخه:** چې زده کوونکي د خپلو هیلو او ارمانونو په ارزښت پوه او هغو ته د رسېدلو لارې بیان کړای شي.

- **د څه شي د لرلو ډېر ارمان کوئ؟**
- **څوک غواړي چې په کوم سپورټ کې اتل شي؟**
- **خپل ارمان ته د رسېدلو لپاره باید څه وکړو؟**









**هرڅوک په خپل ژوند کې هیلې او ارمانونه لري. د خپلو ارمانونو د ترسره کولو لپاره باید هلې ځلې وکړو. خپلې هیلې باید مور، پلار او دوستانو ته څرګندې کړو او پټې یې ونه ساتو. د کورنۍ د مشرانو په لارښوونه باید خپلو هیلو ته د رسېدو لارې چارې ولټوو.**

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې د لوست انځورونه وګوري او ترې لاندې کرښې دې ولولي.
- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې خپلې آرزوګانې بیان کړي.
- څو زده‌کوونکي دې خپلې آرزوګانې او هغو ته د رسیدو د لارو چارو په باره کې د ټولګیوالو په مخکې تمثیل وکړي.

## د ارزونې پوښتنې:

- کورنۍ او دوستانو ته د خپلو هیلو څرګندول څه ګټه لري؟
- په ټولګي کې د خپلو لوستونو په باب څه آرزو لرئ؟
- څوک هیله لري چې ښکلي لیکنه (مشق) زده کړي؟

## کورنۍ دنده:

زده‌کوونکي دې د خپلو هیلو په باب دوې جملې ولیکي او له خپلې کورنۍ سره دې خبرې پرې وکړي.

يوولسم لوست

# زموږ تکلونه (تصمیمونه)

**د لوست موخه:** چې زده کوونکي  د خپلو کړنو د دلایلو او پایلو په باب مثالونه ورکړای شي.

- ولې په سړه هوا کې تودې جامې اغوندو؟
- که چېرې یو خوا بل خوا ته له کتلو پرته له سړک څخه تېرشو، ښايي څه  وشي؟
- که له خپلو ټولګیوالو سره په ادب خبرې وکړو، څه به وشي؟
- څه وکړو چې زموږ په خبره یا عمل  څوک خپه نه شي؟







مخکې له دې چې یوه خبره او یا یو کار وکړو، باید ښه یې وسنجوو.  مخکې له دې چې له ملګرو سره له خپله کوره لیرې ولاړ شئ، یا بام یا ونې ته وخېژئ، باید له مشرانو څخه اجازه واخلئ او مخکې له دې چې بام یا ونې ته وخیژی د خپل عمل خطرونه په نظر کې ونیسئ.  هره خبره چې کوئ باید  ښه یې وسنجوئ چې هم خپل مطلب بیان کړئ او هم څوک خپه نه کړئ.

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې د لوست انځورونه وګوري او ترې لاندې کرښې دې ولولي.
- څو زده‌کوونکي دې د توندو او نرمو خبرو نمونې تمثیل کړي.
- څو زده‌کوونکي دې د ټولګي په وړاندې د یوه کار له ترسره کولو څخه مخکې د هغه په پایلو غور او سنجش وکړي.


## د ارزونې پوښتنې:

- ولې د کار له ترسره کولو څخه وړاندي غور پرې وکړو؟
- مخکې له دې چې د چا د خبرې ځواب ورکړو، ولې باید په هغه غور وکړو؟
- مخکې له دې چې یو کار ترسره کړو باید مشوره وکړو؟

## کورنۍ دنده:

د درس په برخه کې د کورنۍ له غړو سره خبرې وکړئ.

دولسم لوست



# د کوچنیانو حقونه

**د لوست موخه:** چې زده کوونکي خپل لومړني حقونه وپېژني، وهل، ټکول او سپک چلند بد وګڼي.

- **کوچنیان د ټولنې له پاره څه ارزښت لري؟**
- **که چېرې یوه ماشوم ته درناوئ وشي څه کېږي؟**
- **که چېرې یو ماشوم له ښوونځي څخه وشړل شي څه کېږي؟**
- **وهل، ټکول او کنځل پر ماشوم څه اغېزه کوي؟**







**هر انسان حق لري چې درناوی ورته وشي او له ضـــرر څخــه خوندي وي. د نن ورځې ماشومان د ټولنې راتلونکې جوړوي. که زموږ ماشومان ښه وروزل شي او ښه سبق ووایي، زموږ هېواد به آباد شي او د خلکو ژوند به ښه شي. سپکاوی او تحقیر، وهل او ټکول د ماشومانو روحیه کمزوري او ماشوم بې زړه کوي.**

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې د لوست انځورونه وګوري او ترې لاندې کرښې دې ولولي.
- زده‌کوونکي دې د وهلو او ټکولو د زیان په باب خبرې وکړي.
- یو څو زده کوونکي دې خپلې خبرې نورو ته په لوړ آواز بیان کړي.
- زده کوونکي دې ووایي چې څنګه د یوه بل ټولګیوال د روغتیا په ساتنه کې مرسته کولای شي.


## د ارزونې پوښتنې:

- څنګه باید زده کوونکي او ښوونکي په ادب او درناوي له یو بل سره چلند وکړي؟
- په ښوونځي یا کور کې وهل او ټکول کوم زیانونه رامنځته کوي؟
- څنګه په ښوونځي کې ځانونه له زیان څخه وساتو؟

## کورنۍ دنده:

په دې اړه چې سپکاوی د یو ماشوم په حق تیری دی زده کوونکي دې له خپلې کورنۍ سره خبرې وکړي.

دیارلسم لوست




# څه ډول زده کړه کوو؟

**دلوست موخه:** چې زده کوونکي دزده کړې له بېلابېلو لارو سره بلد شي ا و دخپلې خوښې لارې وپېژني.

- **د کلمو لوستل موخه ډول زده کړل؟**
- **له یو څخه تر شلو پورې د عددونو لیکل موخه ډول زده کړی؟**
- **د جامو اغوستل موخه ډول زده کړې دي؟**
- **د لاسونو، مخ او غاښونو پرېمینځل موخه ډول زده کړل؟**









**ماشومان په څو ډولونو زده کړې کوي. ځینې په یوازیتوب سره مطالعه او ښه زده کړه کولای شي. ځینې نور د دوه کسیز او یا ډله ییز سبق ویلو او خبرو له لارې ښه زده کړه کوي. ځینې خلک په رسمولو او نورو عملي کارونو کې ښه زده کړه کوي. تر ټولو ښه زده کړه هغه ده چې د فعالیت، عملي کار، تجربې او تمثیل له لارې ترسره شي او ماغزه او بدن دواړه په کار واچوي. کلمې او جملې حافظې ته سپارل ښه زده کړه ده.**

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې د لوست انځورونه وګوري او ترې لاندې متن دې ولولي.
- څو زده‌کوونکي دې نوروته ووايي چې کوم کارونه يې په کور کې زده کړي
- څو زده کوونکي دې ټولګيوالو ته ووايي چې کوم شيان يې له کور څخه بهر له نورو څخه زده کړي دي.
- څو زده کوونکي دې ووايي چې د دوی د زده کړې تر ټولو ښه طريقه کومه ده.

## د ارزونې پوښتنې:

- مور د ډوډۍ خوړل او دميوو پريمنځل چيرې زده کړي دي؟
- څنګه ليکل ښه زده کړو؟
- څنګه د ټولګيوالو په وړاندې په لوړ آواز خبرې کول زده کړو؟
- په پياله کې د اوبو اچول څنګه ښه زده کولای شو؟

## کورنۍ دنده:

د نويو کمالونو د زده کولو د طريقو په باب له خپلې کورنۍ سره خبرې او سلا وکړئ.


څوارلسم لوست

# ولې زده کړه کوو؟

**د لوست موخه:** چې زده کوونکي د زده کړې په ګټه پوه شي د لوستلو او ښوونځي ته د راتګ موخه بیان کړای شي.

- **زده کړه څه ګټه لري؟**
- **له ښوونځي څخه پرته په بل کوم ځای کې زده‌کړه کوو؟**
- **پر نورو زړه سوی چېرې زده کوو؟**
- **رښتیا ویل په کوم ځای کې زده کوو؟**







**موږ درس لولو چې لوی خدای[ج] او خپل ځان وپېژنو، ښه او روغ انسانان واوسو، له نورو سره مرسته وکړو، خپل کور، کلی او هېواد آباد کړو. د ښه آخرت او نیکمرغه ژوند له پاره تر څو چې ژوندي یو باید د خدای (ج) عبادت او زده‌کړه وکړو.**

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې د لوست انځورونه وګوري او تــرې لانــدې متن دې ولولي.
- زده کوونکي دې ووایي چې د دین د عالم کیدو له پاره په کوم ځای کې ســبق ویــل کېږي.
- نور زده کوونکي دې ټولګیوالو ته ووایې چې د نورو دندو د زده کولو له پاره کــوم سبقونه په کار دي.

## د ارزونې پوښتنې:

- کوم شیان د خپلو ګاونډیانو له راشه درشې څخه زده کولای شو؟
- که چېرې یو چا غوښتي وي چې د راډیو ویندوی شي څه باید وکړي؟
- له راډیو او مجلو څخه څنګه زده کړه کولای شو؟

## کورنۍ دنده:

زده‌کوونکي دې د لوست موضوع له خپلې کورنۍ سره یاده کـــړي او د دوی نظر دې وغواړي.

پنځلسم لوست

# د خپل ځان ځارنه

**دلوست موخه :** چې زده کوونکي دخپل ځان دځارنې لارې وپيژني او دهغو عملي بېلګې څرګندې کړي.

- ولې د خپل بدن د روغتيا ځارنه وکړو؟
- څنګه ځان له کور نه بهر له خطره وساتو؟
- خوشحالي زموږ روغتيا ته څه ګټه لري؟
- څه ډول کولای شو د خپلو کاليو ځارنه وکړو؟



زما بدن د خدای(ج) يو نعمت دی. زه خپل ځان روغ ساتم. د بدن روغتيا په عبادت، ښو خوړو، پاکۍ او خوشالۍ ساتل کيدای شي. خوشحالي او ورزش زموږ وجود ته ګټه لري. سګرټ، چلم، نسوار، دوړې او چټلي زموږ روغتيا ته زيان اړوي. هيڅ چا ته بايد اجازه ورنه کړو چې زموږ بدن ته زيان ورسوي.

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- په دوه کسیزو ډلو کې د لوست انځورونه وګورئ او ترې لاندې متن ولولئ.
- په دوه کسیزو ډلو کې دې زده‌کوونکي تمثیل وکړي چې څنګه خپلې جـامې پـاکې ساتي.
- یو څو زده کوونکي دې د ځان او کورنۍ د خوشاله ساتلو طریقې نورو ته بیان کړي.
- زده‌کوونکي دې د خپل سر، مخ، لاسونو او پښو د ښه ساتلو طریقې انځور کړي.

## د ارزونې پوښتنې:

- په څه ډول موږ خپل بدن او ماغزه روغ وساتو؟
- څه وخت باید خپل لاسونه په صابون پرېمینځو؟
- لوڅ سر په لمر کې ډېر زیات ګرځېدل راګرځېدل څنګه زموږ بدن ته زیان رسوي؟

## کورنۍ دنده:

د بدن او ماغزو د ښه ساتلو په باب له خپلې کورنۍ سره خبرې وکړئ.

# خپل او د نورو مال

**د لوست موخه:** چې زده کوونکي د خپل مال او نورو د مال توپیر وکړای شي او د ساتنې په ارزښت يې پوه شي.

- **کوم شيان زموږ مال ګڼل کېږي؟**
- **کوم شيان بيت المال (د خلکو مال) ګڼل کېږي؟**
- **که د نورو له مال سره بې پروايي وکړو څه کيږي؟**
- **که چېرې خپل مال ښه ونه ساتو څه کېږي؟**







**لوی خدای (ج) موږ ته عقل راکړی دی چې د خپل او پردي مال ترمنځ توپير وکړو. خپل مال بايد وپېژنو او د ښې ساتنې لەپاره يې هڅه وکړو تر څو چې خراب يا ورک نه شي. د نورو مال هم لکه خپل مال وبولو او په ساتلو کې يې هڅه وکړو.**

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- په دوه کسیزو ډلو کې دې زده کوونکي د لوست انځورونه وګوري او تبصرې پـــرې وکړي.
- یو څو زده کوونکي دې په کور او ټولګي کې د خپل او نـــورو د مـــالونو مثالونـــه راوړي.
- زده‌کوونکي دې د عامه دارا یي او بیت المال نومونه واخلي او نورو ته دې پـــه لـــوړ آواز بیان کړي.


## د ارزونې پوښتنې:

- له ټولګیوالو څخه د امانت اخیستلو مثالونه کوم دي؟
- که چېرې له خپل ټولګیوال څخه امانت اخیستل شوی کتاب په مننـــې ســـره بېرتـــه ورکړو، څه کیږي.
- د ټولګي تخته او د جومات فرش د چا مالونه دي.

## کورنۍ دنده:

د بیت المال، خپلو او پردیو مالونو او د ساتلو په باب یې له کـــورنۍ ســـره خبرې وکړئ.

**اوولسم لوست**



# دڅپرکي لنډيز

| |
|---|
| **د لوست موخه:** چې زده کوونکي د دې څپرکي د هر لوست څرګند او عملي ټکي بيان او په عمل کې تمثيل کړای شي |

- **ولې بايد خپلې ارزوګانې وپېژنو؟**
- **که چېرې د يو عمل له ترسره کولو مخکې فکر ونه کړو څه کېږي؟**
- **په کور او ښوونځي کې د زده‌کړې توپير څه دی؟**
- **خپلې پښې څنګه له زخمي کيدو وساتو؟**











**موږ زده‌کوونکي هڅه کوو چې خپل او پردی مالونه وساتو. لوست لولو چې خپل او د نورو حقونه وپېژنو. خپل ښه او بد يادونه خپلو دوستانو ته وايو او خپلو هيلو ته د رسېدو له‌پاره له مشرانو څخه لارښوونه غواړو.**

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزه ډلو کې د تیرو لوستونه انځورونه وګوري او پر مهمو ټکو دې خبرې وکړي.
- ځو زده‌کوونکي دې ټولګیوالو ته ووایي چې له دې کتاب څخه یې کوم زده کړې شیان په عمل کې پلي کړي.
- زده‌کوونکي دې د زده کولو او د زده‌کړې له لارې په اړه یوه جمله ولیکي.
- زده‌کوونکي دې د خپل یو ملګري چې خوشاله وي، رسم وباسي.

## د ارزونې پوښتنې:

- د تېرو یادونو بیانول څه ګټه لري؟
- ماشومانو ته سپکې خبرې کول څه زیان لري؟
- څنګه په کور کې د خپل مال د ورکیدو مخه ونیسو؟

## کورنۍ دنده:

زده کوونکې دې د هغه څه په باره کې چې له تېر ځپرکي څخه یې زده‌کړي له خپلې کورني سره خبرې وکړي.


# دریم فصل


اتلسم لوست




موخه: چې زده کوونکي د سترې مشي بېلابېل ډولونه وپېژني او په عمل کې يې تمثيل کړای شي.

- څو ډوله سترې مشي مو زده ده؟
- له خپلو ټولګيوالو سره څه ډول سترې مشي کوئ؟
- له ګاونډيانو سره څه ډول سترې مشي کوئ؟
- د نيا، نېکه، ماما، ترور او کاکا سره څنګه سترې مشي کوئ؟



هر سهار کله چې له خوبه راويښېږو د کورنۍ ټولو غړو ته سلام اچوو. د سترې مشۍ په وخت کې ځان خوشاله نيسو چې خوله مو له مسکا ډکه وي. د مشرانو لاسونه ښکلوو، خپلو ټولګيوالو ته لاس ورکوو او ګاونډيانو ته سلام اچوو. که څوک ناروغه وي د احوال پوښتنه يــې کوو. خو له نابلده کسانو سره چېرې نه ځو.

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې د لوست په انځورونو خبرې وکړي او تـــرې لاندې متن دې په ګډه ولولي.
- په ډلو کې دې د احوال پوښتنې ډولونه تمثیل شي. زده کوونکي دې د سترې مـــشۍ په وخت د خندا ډکه خوله تمرین کړي.
- څو زده‌کوونکي دې د نابلدو او خطرناکو خلکو څخه د ځان د ساتلو په باب خبـــرې وکړي. خپل آند او نظرونه دې د ټولګیوالو په وړاندې څرګند کړي.


## د ارزونې پوښتنې:

- د سترې مشۍ په وخت د چا لاسونه ښکلوو؟
- له خپلو ټولګیوالو سره څه ډول سترې مشي کوو؟
- له نا اشنا خلکو سره چېرته تلل څه خطر لري؟

## کورنۍ دنده:

د لوست کیسه د کورنۍ غړو ته وکړئ او د خپل کتاب انځورونه دې ورتـــه ښکاره کړئ.


نولسم لوست




# نږدې دوست

**د لوست موخه:** چې زده کوونکي د نږدې دوست ارزښتونه او ګټې بیان کړي.

- **یو ښه دوست کوم صفتونه لري؟**
- **څه ډول یو نوی دوست پیداکولی شو؟**
- **که چېرې یو خواخوږی دوست ونه لرو څه کېږي؟**
- **د زړه خواله ملګرو ته ویل څه ګټه لري؟**







**د نږدې دوست درلودل د روغتیا لهپاره ګټه لري. کله چې د خپل یو دوست سره زړه خواله وکړو زموږ فکر آرامېږي. یو ښه دوست زموږ سره د اړتیا په وخت کې مرسته کوي. د دې لپاره چې نوي دوستان پیدا کړو باید له خپلو ټولګیوالو سره په درناوي چلند وکړو او هغوی په خپله ساعت تیری کې راګډه کړو.**

## د زده کوونکو فعالیتونه:

- زده کوونکي دې په دوه کسیزه ډله کې د لوست انځورونه وګوري او تبصرې دې پرې وکړي.
- زده کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې یو بل ته د زړه راز ووايي (له څه شي څخه ډاريږي، په څه شي خپه شوي يا په قار دي او داسې نور).
- بيا دې د خپل يو ټولګيوال نوم واخلي لکه: زلميه! ته زما دوست يې او کله چې خپه وې درسره کښينم او که ناجوړه شوې پوښتنې ته دې درځم.

## د ارزونې پوښتنې:

- څه وکړو چې خپل دوستان له موږ څخه خپه نشي؟
- که خپل د زړه رازونه لکه (په کوم چا چې په قار يو يا ترې خپه يو) چا ته ونه وايو څه کيږي؟
- له چا سره چې دروغ وايي، غلا کوي او له هر چا سره په جګړه اخته کيږي دوستي وکړو، ولې؟

## کورنۍ دنده:


يوښه دوست ته د اړتيا په برخه کې د کورنۍ له غړو سره خبرې وکړئ د هغوی نظريې واخلئ.


شلم لوست

# د مهمو ورځو لمانځل

| |
|---|
| **د لوست موخه:** چې زده کوونکي مهمې ورځې او د هغو له لمانځلو سره آشنا شي. |

- **د حضرت محمد(ص) د زېږېدو نېټه څه وخت وه؟**
- **د ښوونکي ورځ څه ډول ولمانځو؟**








**حضرت محمد (ص) زموږ د مسلمانانو لارښود دی. او مسلمانان د حضرت محمد (ص) د زېږېدو په ورځ د قرآن‌کريم ختمونه او دعا ګانې کوي. ښوونکي د هېواد د ماشومانو روزونکي دي. د ښوونکي ورځ په ټول هېواد کې د شعرونو او مقالو په لوستلو لمانځل کېږي.**

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې د لوست انځورونه وګوري او خبرې دې پرې وکړي.
- زده کوونکي دې د ښوونکی د ورځې په هکله د خپل ښوونکی څخه پوښتنې وکړي.

## د ارزونې پوښتنې:

- د حضرت پیغمبر (ص) د زیږیدو ورځ څه وخت ده؟
- د ښوونکي د ورځې څه ډول لمانځنه وکړو؟

## کورنۍ دنده:

له خپلې مور او کورنۍ سره د مهمو ورځو په باب خبرې وکړئ.

**يو ويشتم لوست**

# مرسته کول او مرسته غوښتل

**د لوست موخه:** چې زده کوونکي د مرستي کولو او د مرستې غوښتلو د ځانګړو ځايونو په ارزښت پوه شي او په عمل کې يې وښودلی شي.

- په کور کې له چا سره او په کوم کار کې مرسته کوئ؟
- په ښوونځي کې له چا سره په کوم وخت کې مرسته کوئ؟
- په کور کې له چا نه په کوم وخت کې مرسته غواړئ؟
- په ښوونځي کې له چا نه په کوم کار کې مرسته غواړئ؟









**لوی خدای (ج) انسان يو ټولنيز موجود پيداکړی دی. انسانان په کور، ښوونځي او هر ځای کې يو د بل مرستې ته اړ دی. موږ بايد د خواشينۍ او يا ويرې په وخت کې له مشرانو څخه مرسته وغواړو او له خپلو ټولګيوالو او کوچنيانو سره مرسته وکړو.**

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې د لوست انځورونـــه وګـــوري او د مرستې غوښتلو په وختونو دې بحث وکړي
- څو زده کوونکي دې د ټولګي په وړاندې د مرستې غوښتلو تمثیل وکړي. د مثال په توګه: د ریاضي د لوست په ستونزو کې له بل زده‌کـــوونکي څخـــه څنګه مرسته وغوښتل شي.
- زده‌کوونکي دې د مرستې کولو یو حالت بیان کړي.

## پوښتنې:

- ولې باید د کور په کار کې برخه واخلو؟
- ولې د یو دوست د زړه خوا له ته غوږ نیول مرسته ګڼل کېږي؟
- څنګه په ټولګي کې یو له بل سره د لوستونو او کورني کار په باب مرستي وکړو؟

## کورنۍ دنده:

- د مرستې غوښتلو د مناسب ځای او وخت په باب له کورنۍ څخه لاربښوونه وغواړئ

دوه ویشتم لوست




# ګډ کار (حشر)

**دلوست موخه :** چې زده کوونکي دګډ کار له پاره د دندو د ویشلو په ګټو پوه شي.

- **په ښوونځي او کور کې ګډ کار څه ګټه لري؟**
- **په کومو کارونو کې ټولګیوال باید یو له بل سره مرسته وکړي؟**
- **د یو ګډ کار دکولو نه مخکې څه وکړو؟**









**موږ د ښوونځي او کور په پاکولو کې حشر کوو. د ګډ کار په وخت کې خوشحاله اوسو او یو له بل سره شخړه نه کوو. د ګډ کار له پیل نه مخکې دندې ویشو تر څو زموږ کار ژر پای ته ورسیږي او هم ډیر ستړي نه شو.**

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزه ډلو کې د لوست انځورونه وګوري او د ګڼه کار په اړه دې خپل د سترګو لیدلی حال یاد کړي.
- د نیالګیو کینولو او یا د ښوونځي د غولي د پاکولو له‌پاره دې د ګډ کار لپاره دندې وویشي او تمثیل دې کړي.

## د ارزونې پوښتنې:

- په ګډ کار کې څنګه دندې وویشو؟
- ګډ کار څه ګټه لري؟
- د ګډو کارونو له پیل څخه مخکې مشوره له چا سره وشي؟

## کورنۍ دنده:

د نوي لوست کیسه د کورنۍ غړو ته وکړئ او خپل انځورونه ورته وښایاست.


درویشتم لوست





# دفصل لنډیز

د لوست موخه: چې زده کوونکي د دې څپرکي د هر لوست مهم ټکي په عمل کې تطبیق کړای شي.

- سترې مشي څو ډولونه لري؟
- نږدې دوست ولې ضرور دی؟
- د اسلام د پیغمبر (ص) زیږېدنه څنګه لمانځو؟
- له ګاونډیانو سره څه وخت حشر کوو؟














موږ زده‌کوونکي د کور او ښوونځي په ګډو کارونو کې برخه اخلو. پېژندل شوې ورځې لکه د حضرت محمد (ص) د زېږېدو ورځ د ښوونکي ورځ، د اختر ورځ، او د مور ورځ لمانځو.

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې هغه مسئلې چې زده‌کړي یې دي او په عمل کې یې پلې کړي دي کیسه وکړي.
- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې تمثیل وکړي چې څنګــه د کــډو کارونو له پاره دندې ویشي.
- زده‌کوونکي دې د اختر په باره کې یوه جمله ولیکي.


## د ارزونې پوښتنې:

- ولې د سترې مشي په وخت کې مسکي شو؟
- څنګه له خپلو دوستانو سره د زړه خواله وکړو؟
- څه وخت باید مرسته وغواړو؟

## کورنۍ دنده:

زده‌کوونکي دې د هغه څه په باره کې چې له دې کتاب څخه یــې زده کــړي لــه کورنۍ سره خبرې وکړي.

## څلور ویشتم لوست



## څلورم فصل

# خواشیني

**د لوست موخه:** چې زده کوونکي د خواشینۍ نښې نښانې وپېژني د خپل ځان او نورو د آرامولو لاره په عمل کې وښودلی شي.

- هغه څوک چې خواشیني وي څنګه پېژندل کېدلی شي؟
- آیا ته کله خواشینی شوی یې؟
- کله چې خواشیني یاست څنګه خپل ځان خوشحالوئ؟
- له هغه چاسره چې خواشینی وي څه ډول مرسته وکړو؟







ټول کسان که مشران وي که کشران، زده کوونکي که ښوونکي، ځینې وخت خواشینی کېږي. که چېرې خواشیني ډېره اوږده شي د ناروغۍ لامل کیږي. د خواشینۍ د کمولو لپاره باید د هغې دلیل مور، پلار، یا خپل یو دوست ته ووایو تر څو مو زړه په کرار شي

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې د خواشینۍ حالت او د زړه خوالې کول په دوه کسیزه ډلو کې تمثیل کړي بیا دې څو ډلې د ټولګي په وړاندې خپل تمثیل ترسره کړي.
- زده‌کوونکي دې د ښوونکي په مرسته د ژوري ساه اېستل چې د آرامولو لاره ده د ټولګي په وړاندې تمرین کړي.

## د ارزونې پوښتنې:

- که چېري خواشیني یاست څنګه ځان آراموئ؟
- د خواشینۍ د لېرې کولو له پاره سپورت کول یا قدم وهل ګټه لري؟
- که تل خواشیني اوسو څه کېږي؟

## کورنۍ دنده:

زده‌کوونکي دې له خواشینۍ څخه د ارامولو لارې چارې د خپلې کورنۍ له غړو سره تمرین کړي.

پنځه ویشتم لوست



# ډار

| |
|---|
| **د لوست موخه:** چې زده کوونکي د ډار په اړه معلومات تر لاسه کړي او د آراموالو لارې چارې په عمل کې تمثیل کړای شي. |

- **هغه څوک چې ډارېدلي وي په څېره کې یې څه بدلون راځي؟**
- **ډار څه وخت پیدا کېږي او د ډار په وخت کې له چا نه مرسته غواړئ؟**
- **آیا تاسو په خوب کې ډارېږئ؟**
- **کله چې ډارېدلي یاست کوم شیان مو ارامو‌ي؟**









**هر انسان که ماشوم وي او که غټ ځینې وخت وېرېږي. ډار که په ویښه وي اویا په خوب کې، که دوام وکړي د ناروغۍ لامل کېږي. کله چې ډار شوي یو باید مبارکه کلمه له ځانه سره څو ځلې ووایو، اوخپل ډار یو چاته ووایو.**

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې د خپل ډار شیبې (د بېلګې په توګه له موټر، د پېچکارۍ د ستنې، په بایسکل باندې د سپرېدو یا له حیواناتو څخه) د کاغذ پر مخ یا پــه ځمکه انځور کړي بیا دې هغه رنګ کړي. کاغذ دې ځیــرې کــړي او د مځکې انځور دې په لغتو ووهي. دا کار دې څو وارې تکرار کړي.
- زده‌کوونکي دې د خپل ډار کیسې په دوه کسیزو ډلو کې بیان کړي او بیــا دې ژورې ساه ګانې وکاږي.

## د ارزونې پوښتنې:

- کله چې ډارېږو ولې خپل حال باید بل چاته بیان کړو؟
- څو واره باید ژورې سا ګانې وباسو تر څو آرامه شو؟
- لویان له څه شي نه ډارېږي؟

## کورنۍ دنده:

زده‌کوونکي دې د ډار کیسې او د آرامولو لارې د خپلې کورنۍ له غړو سره شــریکې کړي.

شپږ ویشتم لوست




# د غوسې چاره

**د لوست موخه:** چې زده کوونکي په خبره کې د غوسې نښې نيښاني وپېژني او د قار چاره يې په عمل کې وښودلی شي.

- **هغه څوک چې په غوسه شي په خبره کې يې څه بدلون راځي؟**
- **څوک چې په غوسه وي کوم کارونه کوي؟**
- **څه ډول خپله غوسه کمولای شو؟**











**ځينې خلک چې په غوسه شي، بدې خبرې، وهل او ټکول کوي او شيان ماتوي. ځېنې نور بيا خپل قهر په پټه خوله زړه ته اچوي. د قهر زړه ته اچول د ناجوړی سبب کېږي. کله چې په قهرېږو بايد [لاحول ولا قوة الا بالله] ووايو، ځان آرامه کړو او بيا په نرمی خپلې خبرې وکړو. د غوسې د کمولو له پاره بايد له يو چا سره د زړه خواله وکړو يا قدم ووهو يا ورزش وکړو.**

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې د لوست متن ولولي او د غوسې په باب دې خپلو یا دنورو کیسې په دوه کسیزو ډلو کې یادې کړي.

زده کوونکې دې د ټولګي په وړاندې د قهر په وخت له کنځلو او جنګ څخه د ځان ژغورلو لارې تمرین کړي د بېلګې په توګه خپل ځای دې بدل کړي، ژوره ساه دې وباسي، د یو دوست سره دې د زړه خواله وکړي، او یا دې د څو شیبو لپاره غلی شي او خپل فکر دې په یو بل کار کې ونښلوي.


## پوښتنې:

- څنګه پوهېږئ چې یو څوک په غوسه دی؟
- د غوسې په وخت کې څه کوئ؟
- له هغه چا سره چې په غوسه وي څه باید وکړو؟
- د غوسې په وخت کې څه ډول ځان کرار کړو؟

## کورنۍ دنده:

د خپلې غوسې او کراریدو په اړه د خپلې کورنۍ له غړو سره خبرې وکړئ.
د یوې قهرجنې شېبې انځور وکاږئ.

اوه ویشتم لوست




**د لوست موخه :** چې زده کوونکي دخپلو غوښتنو د څرګندونې زړورتیا په عمل کې وښودلای شي.

- کله چې تاسو څوک بې ځایه ملامت وبولي څه کوئ؟
- که چېرې یو څوک ستا سو څخه وغواړي چې سګرټ ورسره وڅکوئ، څه کوئ؟
- کله چې د ښوونکي صاحب په لوست پوه نه شئ، باید څه وکړئ؟
- کله چې له یو چا نه خواشیني شئ څه ورته وایي؟









هر څوک حق لري چې خپلې غوښتنې، اړتیاوې او خپلې د زړه خبرې بې له ډاره بیان کړي. که خپلې غوښتنې او نارضایتي بیان نه کړو ناروغه کېږو. د نورو بې ځایه غوښتنې باید ونه منو او په درناوی ځواب ورکړو. کله چې د ښوونکي په خبرو نه پوهېږو باید پوښـــتنه وکړو.

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزه ډلو کې د لوست انځورونه وګوري او په جرات دې د خپلو خبرو کول تمثیل کړي.
- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې د مشرانو په غونډه کې د خبرو کولو تمرین وکړي.
- یو څو زده‌کوونکي دې د ټولګي په وړاندې د خپل ملګري د غوښتنې په باب چې [د کورني کار په باره کې ښوونکي ته دروغ ووايي] د نه ویلو (رد ځواب ورکولو) تمثیل وکړي.
- زده‌کوونکي دې د هغه بې زړه زده‌کوونکي نوم واخلي چې نور ټولګیوال بې ځایه ټوکې پرې کوي او دی پټه خوله ناست وي او خواشیني ښکاري.

## د ارزونې پوښتنې:

- په کور کې د اخلاقي زړورتیا مثالونه ورکړئ؟
- خپل ټولګیوال ته خپله غوښتنه څنګه څرګنده کړو؟
- که چېرې یو څوک له تاسو نه وغواړي چې د ټولګي په دروازه کرښې وباسئ څنګه ځواب ورکوئ؟

## کورنۍ دنده:

په کور کې د زړورتیا د مثالونو په باره کې له خپلې کورنۍ سره خبرې وکړئ.



# خوښي

**د لوست موخه:** چې زده کوونکي په څېره کې د خوښۍ په نښو نښانو پوه شي او د خوشالۍ ګټې وپېژني.

- **خوښ اوسېدل څه ګټه لري؟**
- **څوک چې تل په غوسه وي ولې د خلکو نه خوښېږي؟**
- **د خپلې کورنۍ غړي یا خپل خواشیني ټولګیوال څنګه خوشحاله کولی شو؟**



**خوښي د لوی خدای (ج) یو نعمت دی هغه څوک چې د تل لپاره خواشیني یا په غوسه وي خپل دوستان له لاسه ورکوي. هغه څوک چې د خدای (ج) پر نعمتونو شکر نه وباسي تل خپه او ناامېده وي. خوشالي روغتیا ته ګټه لري. د دې لپاره چې خپل ځان خوشحاله وساتو باید په هغه څه چې خدای (ج) راکړي شکر وباسو او د خپل ډار او د زړه راز خپل دوست ته ووایو.**

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- له زده‌کوونکو نه وغواړئ چې د لوست انځورونه په دوه کسیزو ډلو کې وګوري او تبصرې پرې وکړي.
- څو زده‌کوونکي دې د ټولګي په وړاندې د ادب نه ډکې ټوکې ووایي.
- زده‌کوونکي دې د خپلو خواشینیو په باب یوه کرښه ولیکي.
- یو څو زده کوونکي دې خپلې لیکل شوې خواشینۍ نورو ته ووایي.

## د ارزونې پوښتنې:

- څنګه ځان او د کورنۍ غړي خوشحاله وساتو؟
- همېشنۍ غوسه او خواشیني څه تاوان لري؟
- خدای (ج) تاسې ته کوم نعمتونه درکړي دي؟


## کورنۍ دنده:

د خپل ځان د خوښۍ او له خواشینۍ څخه د خلاصولو د لارو په باب له خپلې کورنۍ سره خبرې وکړئ.




**د لوست موخه:** چې زده کوونکي بې زړه توب وپېژني او زیانونه یې په ګوته کړی شي.

- بې زړه ماشوم څنګه خبرې کوي؟
- بې زړه توب د څه نه پیدا کېږي؟
- دبې زړه توب د له منځه وړلو لهپاره څه وکړو؟
- د بې زړه ټولګیوال سره څه ډول مرسته کولای شو؟





**هغه ماشوم چې د وهلو، ټکولو، ملامتۍ او ډېرو نیوکو سره مخامخ وي بې زړه کېږي. که چېرې د یو ماشوم ښه کارونه او کړاوونه وستایل شي او د زړه خواله ته یې غوږ ونیول شي، بې زړه توب یې کمېږي. د نورو په مخ کې خبرې کول جرأت زیاتوي.**

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې د لوست انځورونه وګوري او د خپل بې زړه توب کیسې دې یو بل ته وکړي.
- یو څو زده کوونکي دې خپلې د وهل کېدو او رټل کېدو کیسې ټولګیوالو ته په لوړ آواز ووایي.
- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې د هغه پلار ډرامه اجرا کړي چې له خپلو ماشومانو سره په مهربانۍ‌چلند کوي، خبرو ته يې په غور غوږ نیسي، او د شو کارونو ستاینه يې کوي.


## د ارزونې پوښتنې:

- د ماشوم د بې زړه توب لوی لاملونه کوم دي؟
- هغه ماشوم چې زړور وي د خبرو په وخت کې څنګه دریــږي او آواز یــې څنګه وي؟
- که چېرې ستاسي یو ټولګیوال ښه کار وکړي، تاسو څه ورته وایاست؟

## کورنۍ دنده:

زده‌کوونکي دې د بې زړه توب په باب له خپلې کورنۍ سره خبرې وکړي.

دیرشم لوست



# زما ښېګڼې

> **د لوست موخه:** چې زده کوونکي خپل ښه صفتونه او استعدادونه وپېژني او بیان یې کړای شي.

- **مخکې له دې چې په ښوونځي کې شامل شي کوم کارونه دې کولی شول؟**
- **په لومړي ټولګي کې دې څه نوي زده کړل؟**
- **کوم کارونه تر نورو ټولګیوالو ښه کولی شئ؟**



**لوی خدای (ج) موږ ته سترګې، غوږونه، لاسونه، پښې او استعدادونه راکړي. موږ باید هغه څه چې خدای(ج) راکړي او هغه کارونه چې کولی شو وپېژنو او په خوښۍ شکر وباسو. باید تل په یاد راوړو چې یوه ناکامي او یا د یوه شي نه درلودل زموږ ښه والی او استعدادونه له منځه وړلی نه شي.**

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې خپل شته او ښېګڼې وشمیرې او پر هغه کمالونو چې لري یې، وویاړي.
- زده‌کوونکي دې د ټولګي په وړاندې د خپلې یوې تېروتنې او ناکامۍ کیـــسه وکړي.
- زده‌کوونکي دې د هغو کارونو چې په ښه توګه یې کولی شي (لکه د اوبـــو راوړل، جارو کول، مرسته کول، تېزه منډه کول، او داسې نور) بیان کړئ.

## د ارزونې پوښتنې:

- څنګه موږ د هغه څه چې خدای (ج) راکړی قدر وکړو؟
- ولې د یوه شي د نه درلودو څخه غمجن نه شو؟
- څنګه د ناکامۍ د تکرار مخه ونیسو؟

## کورنۍ دنده:

د خپلو ښو صفتونو او کمالونو په باب د کورنۍ سره خبرې وکړئ او د کورنۍ د یوه غړي یو ښه کار وستایئ.

یو دېرشم لوست



# د دریم فصل لنډیز

**د لوست موخه:** چې زده کوونکي د تېر څپرکي د لوستونو مهم ټکي په عمل کې وښودلای شي.

- **کله چې بې ځایه ملامت شئ څنګه خپله نارضایتي بیانوئ؟**
- **له خپه ماشوم سره څنګه مرسته کولای شئ؟**
- **کله چې ډارېدلي یاست خپله د ډارکیسه مو چاته کړې ده؟**
- **په څه ډول کولی شو چې په خپلو کورنیو کې خوښي زیاتې کړو؟**













موږ زده‌کوونکي له خپلو درسونو څخه د زده‌کړې کمالونه په خپل ورځني ژوند کې عملي کوو تر څو زموږ او زموږ د کورنیو ژوند ښه شي.

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسيزو ډلو کې د تېرو لوستونو انځورونه وګوري او مهم ټکي دې په ګوته کړي.
- زده‌کوونکي دې د خپل زړورتوب په باب يو مثال وليکي.
- يو څو زده‌کوونکي دې د خپل زړه ورتوب مثالونه په لوړ آواز ټولګيوالو ته واوروي.

## د ارزونې پوښتنې:

- زياته او همېشنۍ غوسه څه زيان لري؟
- تاسې په خپله کومه تيروتنه اقرار کړی، چېرته او څه وخت؟
- دخپګان په وخت کې د تېروښو يادونو په ياد راوړل څه ګټه لري؟

## کورنۍ دنده:

زده‌کوونکي دې د تېرو لوستونو د غټو ټکو په باب له خپلې کورنۍ سره خبرې وکړي او د دوی نظر دې وغواړي.

دوه دېرشم لوست

## پنځم فصل

# په ځان مهرباني

**د لوست موخه:** چې زده کوونکي په خپل ځان او نورو د مهربانۍ په ارزښت پوه شي او عملي بېلګې يې بيان کړای شي.

- **ستاسو په نظر څوک مهربانۍ ته اړتيا لري؟**
- **په ځان څنګه مهرباني کولی شو؟**
- **په ځان د ظلم څو مثالونه راوړئ؟**



**مهرباني د لوی خدای (ج) يو صفت دی. مهربانه سړي هم په ځان زړه سوزي هم په نورو. که کوم کار ترې خراب شي ځان ډېر زيات نه ملامتوي. کله چې ستړی وي په خپل بدن زړه سوی کوي او استراحت کوي. کله چې خپه وي خپل ځان په تفريح بوختوي. خپل وجود په سګرټ او ناپاکه ډوډی نه ناروغه کوي.**

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې په خپل ځان د مهربانۍ مثالونه راوړي چې څنګه ځان له خواشینۍ او خطرونو څخه وساتي.
- زده‌کوونکي دې د ځان د ساتلو مثالونه لکه په کور کې د ننه او له کور څخه بهر له خطراتو څخه ځان ساتل، تفریح او ورزش کول، د نوکانو لنډول، د ځان پاک ساتل، د پاکو خوړو خوړل بیان کړي.

## د ارزونې پوښتنې:

- په خپل ځان څنګه مهربانه واوسو؟
- آیا په سړو کې ځان نه پېټول په ځان ظلم بلل کېدای شي؟
- د ناروغۍ په وخت کې څه ډول په خپل ځان مهربانه کېدای شو؟

## کورنۍ دنده:

په خپل ځان باندې د مهربانۍ دوه بېلګې ولیکئ او له کورنۍ سره خبرې پرې وکړئ.

درېيم لوست




# ښه نيت او پېرزوينه

**د لوست موخه:** چې زده کوونکي د ښه نيت او لورېنې سره آشنا شي او عملي مثالونه ورکړئ.

- **د يوه ټولګيوال په خوشحالۍ کې څنګه برخه واخلو؟**
- **د يو دوست په برياليتوب کې څنګه مرسته وکړو؟**
- **کوم زړه سواندی سړی پېژنئ؟**









**ښه نيت او پېرزوينه د مسلمان صفتونه دي. موږ بايد د نورو په برياليتوب او پرمختګ خوشحاله شو او خپله خوښي نورو ته څرګنده کړو. موږ بايد له نورو سره د دوی د برياليتوب په لاره کې مرسته وکړو. هماغسې چې ځان ته خپګان نه غواړو، نورو ته هم بايد د خپګان لامل نه شو.**

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسيزو ډلو کې د هغو شيانو مثالونه راوړي چې ځان ته يې نه غواړي (نه غواړم چې څوک مې قلم مات کړي، نه غواړم چې څوک مې ووهي) او بيا دې ووايې چې د بل چا قلم هم نه ماتوم او بل څـــوک نـــه وهم).
- زده‌کوونکي دې په ډلو کې د يو داسې سرې تمثيل وکړي چـــې د خپـــل ګاونډي ماشوم د نويو کاليو مبارکي ورکوي او د زړه له کومي ورته خوشاله دى.

## د ارزونې پوښتنې:

- کله چې خپل د لوبې شيان له نورو ماشومانو سره شريک کړئ څه کېږي؟
- کله چې ډېر وږې ياست او د ټولګيوال سره ډېره تـــوده ډوډى وي، پـــه زړه کې څه وايئ؟

کله چې له ستاسې سره اوبه وي او يو بل ټولګيوال ډېر تږى وي، د دې ټولګيوال بـــه پـــه زړه کې څه راشي؟

## کورنۍ دنده:

د خير غوښتنې او پېرزوينې په اړه له خپلې کورنۍ څخه مثالونه وغواړئ.


څلور دېرشم لوست



# دعوا

**د لوست موخه:** چې زده کوونکي دعوا وپېژني او بې له جګړې يې د اوارولو له لارو سره بلد شي.

- **دعوا څه شئ ده؟**
- **څه وخت د زده‌کوونکو ترمنځ دعوا پېښېږي؟**
- **دعوا په کوم وخت کې زيان لري؟**







**په ژوند کې اختلاف او دعوا پېښېږي. زموږ دنده دا ده چې مخالفت او دعوا له جګړې او کنځلو پرته اوار يې کړو. د دعوې د اوارى تر ټولو ښه لاره د خبرو کولو په مرسته پيداکيږي. د خبرو کولو په وخت کې بايد ادب او درناوى په کلکه په پام کې ونيول شي.**

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې د لوست انځورونه وګوري خپلې کیسې دې د دعوې په باب یو بل ته ووایي.
- یو یا دوه زده‌کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي خپلې د دعوې کیسې دې په لوړ آواز ټولګیوالو ته واوروي.
- څو زده‌کوونکي دې د خبرو له لارې د یوې دعوا د اوارولو تمثیل وکړي.

## د ارزونې پوښتنې:

- دعوا څه وخت پیداکېږي او څه وخت په جنګ اوړي؟
- که یوه دعوا اواره (حل) نه شي څه کېږي؟
- په کور کې دعوا ولې پیدا کېږي؟

## کورنۍ دنده:

زده‌کوونکي دې د دعوا په اړه یوه جمله ولیکي او په رغنده سیالۍ کې دې دهلک یا نجلۍ انځور وکاږي او د خپلې کورنۍ له غړو سره دې پرې خبرې وکړي.

## پنځه دېرشم لوست



# جګړه

**د لوست موخه:** چې زده کوونکي د جګړې زیانونه وپېژني د خبرو له لارې د دعوې اوارى په عمل کې وښودلی شي.

- دعوا او جګړه څه توپیر لري؟
- جګړه څه زیانونه لرلاى شي؟
- دعوا که په جګړه وانه وړي څه ګټه لرلی شي؟
- خبرې اترې څنګه د جګړې مخه نیولاى شي؟



جنګ د خپګان او مرورتیا سبب کېږي. په جګړو کې انسانو ته ژوبله اوړي او شیان پکې ماتېږي. د خبرو په وخت کې لومړى باید ستونزه بیان شي، بیا هر پلو ووایي چې څه غواړي. کله چې په ستونزه وپوهېږو بیا د اوارى څو لارې پیدا کړو. کله چې د حل ډېرې لارې پیدا شي، تر ټولو ښه لاره دې غوره شي چې د ټولو لورو له پاره د منلو وړ وي.

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې انځورونه وګوري او د انځورونو لاندې مطلب دې ولولي خپلې ورته کیسې دې بیان کړي.
- د زده‌کوونکو یوه ډله دې په ټولګي کې د کیناستو پر ځای د یوې دعوا تمثیل وکړي. نور زده‌کوونکي دې د دغې دعوا د اوارې د لارو وړاندیزونه وکړي. بیا دې د ښوونکي په مرسته هغه لاره غوره شي چې د دعوا د دواړو اړخونو له پاره د منلو وړ وي.

## د ارزونې پوښتنې:

- ولې د دعوا د اوارې لارې د خبرو له لارې ولټوو؟
- که چیرې د خبرو له لارې دعوا د اوارې لارې و نه مومي څه به وشي؟
- په خبرو اترو کې کوم ټکي په پام کې ونیسو؟

## کورنۍ دنده:

د خبرو له لارې د دعوا او جګړې د حل کولو په باب له خپلې کورنۍ سره خبرې وکړئ او مثالونه ترې وغواړئ.


شپږ دېرشم لوست




# غوږ نیول

**د لوست موخه:** چې زده کوونکي د غوږ نیولو ښېګڼې وپېژني او په ځیر سره د غوږ نیولو عادت په عمل کې وښیي.

- **کله چې څوک مور ته غږېږي، کوم کارونه باید ونه کړو؟**
- **که چېرې یو څوک د غوږ نیولو پرځای ستاسې په خبرو کې را ودانګي تاسو ته څه احساس پیداکېږي؟**
- **په غور سره غوږ نیول څه ګټه لري؟**
- **ځنګه پوهېږو چې په غور سره مو غوږ نیولی دی؟**







**د یو چا خبروته غوږ نه نیول بې ادبي ده. که چېرې د چا خبرو ته غوږ ونه نیسو، په خبرو به یې پوه نه شو. څوک چې خبرې راسره کوي باید هرې خوا ته ونه ګورو، د خبرو په منځ کې ورونه دانګو، او له کوم شي سره ځان په لوبو بوخت نه کړو.**

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې د غوږ نیولو تمثیل وکړي. یو تـــن دې خبرې کوي او بل دې په خبرو کې ورلوېږي یا دې له نورو سره په خبرو اخته شي، یا دې له ځانه سره په لوبو اخته شي.
- یوه ډله دې د ټولګي مخې ته راشي او دا ځل دې اوریدونکي په غور خبرې واوري او تر څو چې د لومړي زده کوونکي خبرې نه وي تمامې شوي، دویم زده کوونکی دې خبرې نه کوي.
- په بل تمثیل کې دې دوه زده کوونکي په وار خبرې وکړي بې له دې چې شر او شور جوړ کړي.

## د ارزونې پوښتنې:

- د دې له پاره چې دوه تنه د یو بل په خبرو پوه شي څنګه باید خبرې وکړي؟
- که په وار خبرې ونه کړو څه به وشي؟
- د غوږ نیولو ارزښت د دعوا په اوارولو کې څه شی دی؟

## کورنۍ دنده:

له خپلې کورنۍ سره د غوږ نیولو او په وار خبرو کولو په باب خبرې وکړئ او د دوی نظر وغواړئ.

اوه دېرشم لوست



# په تېروتنو اقرار

**د لوست موخه:** چې زده کوونکي په تېروتنو د اقرار په ګټو پوه شي او ښښنه غوښتنه تمثيل کړای شي.

- **کله چې په سهوې سره د چا پر ښښنه، ښښنه کېږدو بايد څه وکړو؟**
- **کله چې يو شئ له مورِ څخه مات يا خراب شي، خپلې مور او پلار ته څه ووايو؟**
- **له خپل ټولګيوال څخه د ښښنې لاره کومه ده؟**



**هر انسان سهوه اوتېروتنه کوي. بايد په خپلو تېروتنو اقرار وکړو او ښښنه وغواړو. رښتيا ويل د خدای (ج) خوښېږي او په هر حال کې بايد يوازې رښتيا ووايو.**

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې د دې لوست انځورونه وګوري او خبرې دې پرې وکړي.
- څو کسه زده‌کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او په خپلو تېر وتنو دې اقرار وکړي او بېلګې دې وښيي.
- څو کسه دې د دروغجن ماشوم تمثیل وکړي چې هیڅ څوک یې په خبرو باور نه کوي او ټول په سپکه سترګه ورته ګوري.


## د ارزونې پوښتنې:

- آیا په خپلو تېروتنو اقرار رښتیا هم د ښو خلکو کار دئ؟
- داسې څوک پېژنئ چې د خپلې سهوې په خاطر یې بښنه غوښتې وي؟
- آیا رښتیا هم په تېروتنه اقرار نه کول مو دروغجن کوي؟

## کورنۍ دنده:

زده‌کوونکي دې په تیر وتنو د اقرار او رښتیا ویلو په باب له خپلو کورنیو سره خبرې وکړي او له دوی څخه دې مثالونه وغواړي.

اته دیرشم لوست



# د ښښنې غوښتل

**د لوست موخه:** چې زده کوونکي د ښښنې غوښتنې په ځواب کې له ښښنې سره بلد شي.

- **که څوک له موږ څخه ښښنه وغواړي موږ څه وکړو؟**
- **ښښنه څنګه کېږي؟**
- **کله چې د یو چا تر غلطۍ ورتېرېږو، څنګه ښښنه وکړو؟**







**کله چې یو ټولګیوال د خپل ناوړه کار په خاطر ښښنه وغواړي موږ ته پکار ده چې له خپلې غوسې نه تېر شو، خپه او مرور پاتې نه شو. څوک چې ښښنه غواړي باید وعده وکړي چې خپل ناوړه کار بیا نــه تکراروي. او څوک چې ښښنه کوي باید مرور پاتې نه شي.**

## د زده‌کوونکي فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې د ټولګي د یوې دعوې په بـــاب د ښښنې غوښتنې او عفوې کولو تمثیل وکړي.
- نور زده کوونکي دې د ښښنې کیسې راپه یاد کړي او ټولګیوالو ته دې په لوړ آواز واوروي.
- زده کوونکي دې د ښښنې غوښتنې او عفوې کولو په باب یوه یـــوه کرښـــه ولیکي.
- څو زده کوونکي دې خپلې جملې په لوړ آواز نورو ته واوروي.


## د ارزونې پوښتنې:

- ښښنه ښه کار دی؟ ولې؟
- آیا دا رښتیا ده چې د ښښنې غوښتل او عفوه کول دوستي ټینګوي، ولې؟
- څومره وخت د مرور پاتې کېدو له پاره بس دی؟

## کورنۍ دنده:

د عفوې په باب خپلې لیکلې جملې د کورنۍ غړو ته ولولۍ او د دوی نظر پرې وغواړئ.

نه دیرشم لوست



# د خپګان وروسته پخلاینه

| |
|---|
| **د لوست موخه:** چې زده کوونکي له خپګان وروسته د پخلاینې لارې وپیژني او په عمل کې وښودلای شي |

- **کله چې یو څوک له مورِ نه خپه وي څنګه ورسره پخلا شو؟**
- **د پخلا کېدو طریقې کومې دي؟**
- **که د خپګان یا جګړې نه وروسته پخلا نه شو څه کېږي؟**



**د جګړې او اوږده خپګان له امله د انسانانو دوستي له منځه ځي.**
**کله چې دوه تنه یو له بله مرور او خپه وي، یو له بل سره مرسته نه شي کولی، او ښایې جګړې ته پلمې جوړې کړي. د دې لپاره چې خپه کسان سره پخلا شي اول باید یو د بل نه ښښنه وغواړي او د یو بل تېر وتنې عفو کړي. بیا نو د پخلاینې لپاره یا لاسونه سره ورکوي او یا یو بل په غېږ کې نیسي. کله چې پخلاینه وشي بیا نو مرور بېرته سره دوستان شي.**

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې د پخلاینې تمثیل وکړي.
- څو زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او داسې تمثیل دې وکړي:
  - لومړی سره مرور وي او له یو بل سره خبرې نه کوي
  - بیا یو له بله معذرت غواړي او په خپلو اشتباه ګانو اقرار کوي
  - بیا دواړه لاسونه سره ورکوي یا په غېږو کې یو بل نیسي او په خندا او خوشالۍ سره پخلا کیږي.

## د ارزونې پوښتنې:

- ولې باید د ډېر وخت لپاره مرور پاتې نشو؟
- آیا دا رښتیا ده چې که په تېروتنو اقرار ونه شي او ببښنه ونه غوښتل شي، پخلاینه به ژر په مرورتوب بدله شي؟
- پخلاینه سخته ده که خپګان؟ ولې؟

## کورنۍ دنده:

زده‌کوونکي دې له جګړې وروسته د پخلا کېدلو په اړه څو جملې ولیکـــي او لـــه کورنۍ سره دې خبرې پرې وکړي.

څلوېښتم لوست




# د پنځم فصل لنډيز

**د لوست موخه:** زده کوونکي دې د دې څپرکي د هر لوست په زړه پوري او عملي رایاد او په عملي کې پلي کړي.

- په ځان څنګه زړه سوئ لرلای شو؟
- څنګه د کورنۍ په نورو غړو لورېينه (پېرزوينه) لرلای شو؟
- ولې د يو چا خبره په غور سره واورو؟
- څنګه يوه دعوا اواره کړو چې په جګړه وانه وړي؟









**موږ زده‌کوونکي په ځان او نورو مهربانه يو، په وار خبرې کوو، د خپګان د لیرې کولو له پاره په خپله اشتباه اقرار کوو، ببښنه غواړو او ژر سره پخلا کیږو.**

## د زده‌کوونکو فعالیتونه:

- زده‌کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې تمثیل کړي چې له شخړې وروسته څه ډول پخلاینه کېږي.


ټول زده کوونکي دې د ښوونکو په لارښـــوونه لـــس وارې اوږدې ســـاګانې وباسي. هوا دې د پوزې له یوه سوري څخه واخیستلای شي او د پوزې له بـــل سورې څخه دې وایستلئ شي.

## د ارزونې پوښتنې:

- په کور کې دعوا ولې پیدا کېږي؟
- که په وار خبرې ونه کړو څه به وشي؟
- ښښنه ښه کار دی که عفوه کول؟
- ولې باید د ډېر وخت له‌پاره مرور پاتې نشو؟

## کورنۍ دنده:

د تېرو لوستونو هغه ټکي چې ستاسې ډېر خوښ شوي وي د کورنۍ له غړو سره خبرې پرې وکړئ.




**طرح او رسامی:** ترینا ستار "محب زاده"

**کمپوز او ډیزاین:** حمیدالله غفاري او عبدالفتاح ریان

د کتاب د استهلاک دوره (۳) کاله.